مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۲۱/۰۹/۲۵

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

### درېیمه برخه

ویتنام:
په ویتنام کې د یرغلګرو جنایتونه:

په ویتنام کې امریکایي عسکرو ته په ځانګړو کارتونو کې داسي نصیحتونه لیکل شوي وو:
۱ ــ په یاد ولرئ چې موږ دلته میلمانه یو، له چا څخه کوم څیز یا د کوم ډول چلند غوښتونکي نه یو.
۲ ــ له خلکو سره یو ځای شئ، د هغوی په ژوند کولو او خرنګوالي پوه شئ، د هغوی متلونه وکاروئ، د دوی قوانینو او دودونو ته درناوی وکړئ.
۳ ــ له ښځو سره په ډېر ادب او درناوي چلند وکړئ.
۴ ــ د دولت او خلکو په منځ کې دوستان پیدا کړئ.
۵ ــ خلکو ته سمه لاره وښایئ.
۶ ــ خپل امنیت ته پام کوئ او د اړتیا پر مهال په ټول نظامي څواک سره عمل وکړئ.
۷ ــ د بد مستی، تاؤتریخوالي، بي ادبی او له نا عادي چلند څخه ډډه وکړئ.
۸ ــ له ځان ښودني، ځان لوړ بلل ، یا د امتیاز لرلو یا بل داسي عمل چې ستاسو او د خلکو تر منځ جدايي رامنځ کوي ډډه وکړئ.
۹ ــ سربېره پر دې هېر نه کړئ چې ته د امریکا متحده آیالاتو د پوځ غړی یې، د ټولو شخصي او اداري کړنو پر وړاندي رسماً د مسوولیت احساس ولرئ.
او د کارت په پای کې دا هم لیکل شوي دي:«خپل او د امریکا متحده آیالاتو شرافت په فکر کې اوسئ.» (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون،۸۹مخ)
که له یو خوا امریکایي لوړ پوړو چاروکو خپلو عسکرو ته په ویتنام کې له خلکو سره د ښه چال چلند سپارښتنه کوله خو له بل پلوه د پوځیانو کړني له ویتنامیانو سره سرچپه وې، څه چې دوی ته ویل شوي وو په عمل کې ټول برعکس پلي کېدل، د امریکایي پوځیان کړني او د هغوی لاس پوخي رژیم، جنوبي ویتنام کړني د خپلو خلکو پر وړاندي له انساني کړنو بهر دي چې دلته یې موږ د (مُشت نمونه خروار) په توګه لړ مالومات وړاندي کوو:



په جنوبی ویتنام کې د امریکایانو پوځیانو سربېره د ویتنام پر جګړه ییزو څواکونو او ملکي خلکو د ناپالم بمونو او کیمیاوي بمونو بریدونه کول، ملکیان یې وروسته له نیولو شکنجه کړي، سرونه یې تري غوڅ کړي، خېټي یې ورڅيرې کړي دي او په ښځو یې تېري ترسره کړل، (۸۰۰،۰۰۰) ویتنامیان د شکنجو او ۱۰۰،۰۰۰) تته د کیمیاوی موادو د کارولو له امله فلج شوي دي... د دې لپاره چې د ویت کنګ له غړو اقرار ترلاسه کړي، د ښځو تیونو او د سریو تناسلي الات د برېښنا د ټکانونو د ورکولو له امله سوزول شوي دي، په دې موخه چې له اسیرانو اقرار واخلي د دوی د سترګو پر وړاندي د نورو بندیانو غوږونه، پوزې، د ګوتو بندونه، حتا د زندانیانو تناسلي الات غوڅ او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ



ټوټې، ټوټې کړی شوي دي ... د خلکو د وېرولو په موخه يې د خلکو له غوڅ شويو غوړونه چې په تارونو پيبل شوي وو، له دولتي ودانيو ځړولي وو. (هماغه اثر، ۸۸مخ)
کله چې امريکايي عسکر، له وېريدلو بزګرانو سره مخ کېدل، بې له دې چې د دوی له ګروهو (عقايدو) او يا سياسي اړيکو خبر وي، څوک به چې تښتېدل او يا به مذهبي کس ورته ښکاره شو، ډزې يې پرې کولې، دغه بزګران چې ډېری يې وچ په وچه وژل د کمونستانو په لېست کې شمېرل شوي دي او هر څوک چې وژل شوی دی يو ويت کنګ (د جنوبي ويتنام چريک) بنودل شوی دی.
د ۱۹۶۳ز، کال تر نيماي پورې (۱۶۰۰،۰۰۰) کسان وژل شوي، (۷۰۰،۰۰۰) تنه شکنجه شوي، ۴۰زره کسان بنديان شوي، ۳۱زرو کسانو باندې جنسي تيري ترسره شوي دي، ۳زره ښځې خېټې څيرې شوي، ۴زره تنه سوزول شوي، د ۱۰۰۰ تنو هډوکي مات شوي دي، سربېره پردې په ۴۶ کليو د کيمياوي وسلو بريدونه شوي دي ... (هماغه، ۵۵- ۶۱مخونه)

امريکايانو د ويتنام پر ځنګلونو باندې له هوا څخه، له اتياوو ميليونو ليترو زيات کيمياوي توکي شيندلي دي چې له امله يې د ځنګلونو ونې وچې شوې او هر ډول فصلونه، واښه، ځناور او انسانان يې مسموم کړي دي ... . (هماغه، ۱۴۷مخ)
يو تن ويتنامي ډاکټر نګوين خېل د سترګو ليدلی حال ليکلی چې په يوه برخه داسي ليکي:«... د ۱۹۶۴ز، د نوامبر په لومړيو کې خلور بم غوځوونکي الوتکو زموږ استوګنځای چې د لام دونګ په سيمه کې ؤ، دوه ساعته په بمونه او راکټونو بمبار کړ، ورپسې دوه چورلکې او دوه الوتکې راوسېدې او زهرجن کيمياوي بمونه يې وغوځول ... يو ډول نه زغمونکی بوی چې د کلروفورم بوی ته ورته ؤ او پوزه يې سوزوله. د دغو زهرجنو توکو د اورولو له کبله، وروسته له پنځو دقيقو، د الوګانو، شولو، وښو او د ټولو ونو پاڼې وچې شوې، خلک لومړی په سختې سردردی اخته شول، بيا پرله پسې ترنجې او په پای کې دم په دم ګرځولو (قی) يې پيل وکړ، زه چې د ناروغانو په درملنه بوخت وم نو د دې وخت راسره نه ؤ چې د نايلون له کڅوړو څخه د ځان د ساتنې په موخه کار واخلم او زه هم له سخت اغېز سره مخ شوم، لومړی مې له سختې سابندی احساس وکړ، بيا د سترګو له سوزولو سره مخ شوم او ورپسې مې په ګرځولو، چې وينې هم په کې وې پيل وکړ.
وروسته له پنځلسو دقيقو د داکوتا الوتکې راغلې بيا يې کيمياوي توکي وپاشل، دا ځل مې په پوزه کې د بدبويی احساس وکړ او بل هر ډول احساس مې له لاسه ورکړ، په بوی او د خولې په خوند نه پوهېدم، خو دا مې ليدل چې د ونو پاڼې څه ډول د اوبو پر مخ لکه تېل چې په اوبو کې اچول شوي وي ځلېږي... دا مهال خلک د خپلو الوګانو د بوټو د ژغورلو په موخه پټيو ته راووتل او د ونو د څانګو په ماتولو يې پيل وکړ، تر څو د الوګانو بوټي پرې پټ کړي، هغه وو چې الوتکو د کيمياوي او ناپالم بمونو په غورځولو پيل وکړ او دا ځل يې هر څه وسوځول.
د ککړتوب (مسموميت) له کبله چا خوراک او خوب نه شو کولی، د ککړتوب اغېز پر اعصابو خورا ډېر ؤ، ما داسې ګڼله لکه په هوا کې چې الوزم، خپل وزن مې نه شو احساسولی، سخته تبه او د سترګو سوځول ډېر دردونکي وو ... يوه ورځ وروسته ټول چرګان او پيل مرغان مړه شول، د ککړتوب له کبله کبان په اوبو کې لټ په لټ اوښتل او ټول واښه ککړ شوي وو، کورني حيوانات د



وښو د نه شتون له امله مړه شول، ټولو بلاربو ښځو او کورنيو حيواناتو خپل بچي زيان کړل ... لس ورځې وروسته د ډېرو ځل لپاره يو الوتکه په زراعتي فصلونو کيمياوي توکي وشيندل ... په دې بريدونو کې نولس تنه ووژل شول، درې تنه ړانده او ۶۰۰ تنه سخت ټپيان شول، زما سترګو داسې زيان وليد چې ليد مې له لاسه ورکړ... ټول محصولات وسوځول شول او خلکو د بوټو په رېښې او پاڼې شوي ناولې مېوې خوړلې ... .» په پای کې ډاکټر نګوين وايي:«د خلکو د پاملرنې له امله زه اوس ښه يم خو د يوې سترګې ليد مې د تل لپاره له لاسه ورکړی دی ...
.» (هماغه،۱۵۰مخ)
د ۱۹۶۸ز، کال د مارچ په ۱۶ نېټه امريکايي عسکر د ويتنام يو وړوکي کلي (مي لای) چې د کوانګ نګای په سميه کې پروت دی، ورغلل. د کلي اوسېدونکي چې خپل کوچني ماشومان يې په غېږو کې وو، راټول کړل،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

امریکايي عسکرو هغوی د یوې کندې پر لور بوتلل او ویې وژل. په دې هکله نیویارک ټایمز د یو امریکايي عسکر (جیمز دارسي) شهادت چې د خپل قوماندان (ویلیام کلي) په اړه یې په محکمه کې ورکړ وویل:«قوماندان کلي او هغه عسکر (پاول د. مدلو) چې لږ وړاندې یې د هغو ماشومانو له لاسه خوړې اوبه څښلې وې، نیول شوي کسان یې کندې ته وروغوځول ... د قوماندان کلي له لوري د دزو کولو امر وشو ... ډزې پیل کړې.

مدلو زما پر لور راغی ویې ویل:«ډزې وکړه ولې ډزې نه کوئ؟»

ما چې ژړل ومې ویل:«نه شم کولی دا کار وکړم.»

جیمز زیاته کړه:«بیا مدلو او قوماندان کلي خپلې وسلې د کندې پر لور واړولې ډزې یې پیل کړې، خلکو ځانونه پر یو بل واچول، میندو کوښښ کاوه خپل ماشومان وژغورې.»

کله چې د ۱۹۶۹ز، کال په نوامبر کې د امریکا پوځي کار پوهان د می لای هغې سیمې ته چې له خلکو خالي وه ولاړل، دري ځایه یې له وژل شویو کسانو ډکې کندې وموندلې، داسې اټکل وشو چې له ۴۵۰ تر ۵۰۰ تنو چې ډېرې یې ښځې، ماشومان او زاړه کسان وو وژل شوي وو . (پروفیسور هوارډ زین: داستان امریکا، ۲ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي،۲۹۲مخ)

د مې لا د ټول وژنې په اړه بل ځای داسې هم ویل شوي دي چې د ۱۹۶۸ز، کال د مارچ په ۱۶ نېټه په جنوبي ویتنام کې امریکايي عسکرو له ۳۴۷ تر ۵۰۴ تنو پورې ملکي وګړي ووژل، مخکې له وژلو په یو شمېر ویتنامیانو باندې تېرې، شکنجې او د بدن غړي یې غوځ شوي وو او ځینې وژل شویو جسدونه یې ټوټې ټوټې کړي وو ... (ویکي پیډیا، جنګ ویتنام)

په جنوبي ویتنام کې په اجباري کمپونو کې چې په سلو کې ۶۰، تنه کلیوال ویتنامیان بندیان وو په دغو کمپونو کې خلک د اوږد او لنډ مهال لپاره ساتل کېدل چې دا ډول ساتل د بندیانو لپاره ناوړه روحی او دردوونکي شکنجې وې ... (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون،۱۲۶مخ)

له بل پلو په جنوبي ویتنام کې د ژینو د تړون له مخې د هغو ښځو مېړونه چې له جنوبي ویتنام څخه شمالي ویتنام ته لېږل شوي وو او ښځې یې په جنوبي ویتنام کې پاتې وې د سایګون رژیم له خوا اړې شوې چې په رسمي توګه له خپلو مېړونو څخه جدا شي. (هماغه، ۱۷۹مخ)



امریکایان چې په ویتنام کې د خپلو متحدینو او خپلو عسکر په لوی شمېر ډاډمن وو، نو په ۱۹۷۰ز، کې یې اعلان وکړ: هغه جګړه چې په جنوب ختیځه اسیا کې دوام لري یوازې په ویتنام پورې اړه نه لري بلکې د ټول هندو چین جګړه ده ... وروسته امریکایانو په کمبوجیا او لاوس چې له ویتنام سره پلو شریک دي بریدونه وکړل چې له امله یې د امریکایانو پر وړاندې د شمالي ویتنام، کمبوجیا، لاوس او جنوبي ویتنام د آزادی غوښتونکو ملي جبهې اتحاد رامنځ ته شو. (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون ، ۱۴۹مخ)

د ۱۹۷۰ز، په پسرلي کې د امریکا ولسمشر او د بهرنیو چارو وزیر هنري کیسینجر وروسته د یوې اوږدې او پټې بمبارۍ په کمبوجیه برید وکړ، دغې برید نه یوازې په متحده آیالاتو کې نیوکې پورته کړې، بلکې د نظامي پلوه یوه ماتې بلل کېده، نو کانګرس پرېکړه وکړه چې ولسمشر نیکسون وروسته له دې نه شي کولی د کانګرس له تایید پرته امریکايي پوځیان د جګړې د پرختیا په موخه بهر ته واستوي، یو کال وروسته متحده آیالاتو (پرته له امریکايي پوځیانو) په لاوس باندې د جنوبي ویتنام ځواکونو له بریدونو ملاتړ وکړ، د جنوبي ویتنام پرغلګرو ځواکونو ماتې وخوړه. په ۱۹۷۱ز، کال کې امریکایانو (۸۰۰) ټنه بمونه په لاوس، کمبوجیه او ویتنام باندې اورول، په دې منځ کې د سایګون نظام د نګوین وان تیو په مشرۍ په زرګونو سیاسي مخالفین په بند کې اچولي وو. (پروفیسور هوارډ زین: داستان امریکا، ۲ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي،۳۰۱مخ)

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ